امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه



# هفته نامه مدیریت حوادث

۲۰ الی ۲۵ دلو ۱۴۰۳

شماره نودو پنجم

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د OAWCK موسسې د پروګرامونو له مسوول سره د ۲۶۰۴۰۵ امریکايي ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک کړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدين ترابي، د OAWCK موسسې د پروګرامونو له مسوول محترم عبدالوارث کريمي سره د ۱۴۴۶ کال د شعبان 11 نېټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامه يې ورسره لاسليک کړه.

ترابي صاحب د نوموړي موسسي کې وویل: موږ مسؤلیت لرو چې موسسو ته لازمي اسانتیاوې برابرې کړو او ټولو ولایتي رئیسانو ته مو لارښوونه کړې چې له موسسو سره لازمه همکاري وکړي. نوموړي زیاته کړه چې زموږ موخه د هېواد په کچه زیانمنو او بې‌وزلو خلکو ته رسېدنه او هغوی ته د مرستو رسول دی...

ادامه در صفحه۲

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د اکشن اېډ موسسې له رئیس سره د ۷۹۹,۵۱۴ ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم‌نامه لاسليک کړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدين ترابي د اکشن اېډ موسسې له رئیس، سرى کانتا میسرا سره د ۱۴۴۶ کال د شعبان 11 نېټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه يې...

ادامه در صفحه۳

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د ګېټس بنسټ د مشاورې سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدين ترابي د ګېټس بنسټ د مشاورى انا ماريا، د WHO د استازی ډاکټر خوشال زمان او روضت الله ضیاء سره د ۱۴۴۶ کال د شعبان 12 نېټه په خپل...

ادامه در صفحه۳

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د مهاجرت نړیوال سازمان، IOM د رئیسی سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدين ترابي د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) د رئيسی پارک میهیونګ، د معلوماتو د تعقیب د پروګرام مسؤل الحمدانی مظهر او د اظطراری حالتو مسؤل...

ادامه در صفحه ۴

@afghanistanndma
Afghanistanndma
andma.gov.af
0202104926

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د OAWCK موسسې د پروګرامونو له مسوول سره د ۲۶۰۴۰۵ امریکایي ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک کړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی، د OAWCK موسسې د پروګرامونو له مسوول محترم عبدالوارث کریمی سره د ۱۴۴۶ کال د شعبان 11 نېټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

ترابی صاحب د ښه راغلاست ترڅنګ وویل: موږ مسؤلیت لرو چې موسسو ته لازمې اسانتیاوې برابرې کړو او ټولو ولایتی رئیسانو ته مو لارښوونه کړې چې له موسسو سره لازمه همکاری وکړی. نوموړی زیاته کړه چې زموږ موخه د هېواد په کچه زیانمنو او بې‌وزلو خلکو ته رسېدنه او هغوی ته د مرستو رسول دی.

ترابی صاحب وویل چې د افغانستان خلک د طبیعی پېښو له امله زیانمن شوی او مرستو ته اړتیا لری، نو له موسسو یې وغوښتل چې خپلې مرستې د ژمی له موسم څخه مخکې ووېشی.

وروسته، د OAWCK موسسې د پروګرامونو مسوول عبدالوارث کریمی، د ادارې له سرپرست څخه د مننې ترڅنګ وویل: یاده مؤسسه له ۲۰۱۰ کال راهیسې د پوهنې، د اوبو رسولو شبکو، روغتیا او کرنې په برخو کې فعالیت کوی او خلکو ته یې ارزښتناک خدمتونه وړاندې کړی دی.

نوموړی زیاته کړه چې یاده موسسه به د ملګرو ملتونو د سازمان په مالی ملاتړ، په سمنګان ولایت کې د روی دوآب او خرم سارباغ ولسوالیو ۶۰۰ زیانمنو، بې‌وزلو او راستنېدونکو کورنیو ته نغدی او غیر نغدی مرستې ووېشی.

د دې تفاهم‌نامې له مخې به د ۲۶۰۴۰۵ ډالرو په ارزښت نغدی مرستې د سمنګان ولایت د روی دوآب او خرم سارباغ ولسوالیو ۶۰۰ کورنیو ته ووېشل شی، چې له مخې به یې هرې کورنۍ ته ۲۷۴ ډالره یا دهغو معادل افغان د سون توکو او د ژمی جامو د پېرلو لپاره ورکول کېږی، او همداراز، به د ۵۷ ډالرو په ارزښت ۵ کمپلې (۴ یو نفره او ۱ دوه نفری وېشل سی.

## له پېښو سره د مبارزې ملي ادارې سرپرست د اکشن ایډ موسسې له رئیس سره د ۷۹۹,۵۱۴ ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک کړه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي د اکشن ایډ موسسې له رئیس، سری کانتا میسرا سره د ۱۴۴۶ کال د شعبان 11 نېټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

په دې ناسته کې، ترابي صاحب د ښه راغلاست ترڅنګ وویل چې موږ د خپلو خلکو د لا ښه خدمت او هڅوی ته د زیاتو مرستو رسولو په لټه کې یو، له همدې امله نه یوازې دا چې د مرستندویه موسسو ملاتړ کوو، بلکې هڅوی هڅوو چې د زیانمنو خلکو سره د مرستو او د هڅوی د ستونزو د کمولو لپاره لا زیاته بودجه ځانګړې کړی.

ترابي صاحب زیاته کړه چې افغانستان د خپل جغرافیوی موقعیت له مخې له طبیعی پېښو زیانمن دی او د وقایوی پروژو پلی کولو ته اړتیا لری، نو له موسسو یې وغوښتل چې په دې برخه کې همکاری وکړی.

وروسته، د اکشن ایډ موسسې رئیس، سری کانتا میسرا، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست له همکاریو مننه وکړه، چې د تېرو تفاهم نامو د پلی کولو په برخه کې یې کړی دی، او د معلوماتو په وړاندې کولو سره هغه زیاته کړه چې دا موسسه د بشردوستانه او پراختیایی مرستو په برخو کې فعالیت کوی.

نوموړی ووېل چې یاده موسسه به ۲,۸۱۲ کورنیو ته په څلورو پړاوونو کې نغدی مرستې ووېشی او د ۱,۲۷۴ کورنیو ته به د څارویو د واښه برابرولو په موخه په سیغان، شیبر او د بامیان ولایت مرکز کې نغدی مرستې ووېشی.

د یادونې وړ ده چې د دې تفاهم‌نامې له مخې، ۷۹۹,۵۱۴ (اووه سوه نهه نوی زره او پنځه سوه څوارلس) ډالر به ۲,۸۱۲ کورنیو ته په سیغان، شیبر او د بامیان ولایت مرکز کې وویشل شی، چې هرې کورنۍ ته به د خوراکی توکو د برابرولو لپاره په څلورو پړاوونو کې ۱۷۲.۱۲ ډالر ورکول کېږی، او ۱,۲۷۴ کورنیو ته به د څارویو واښه برابرولو لپاره هرې کورنۍ ته ۹۵ ډالر ورکول کېږی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د ګېټس بنسټ د مشاورې سره وکتل




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملې ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي د ګېټس بنسټ د مشاورې انا ماریا، د WHO د استازی ډاکټر خوشال زمان او روضت الله ضیاء سره د ۱۴۴۶ کال د شعبان 12 نېټه په خپل کاری دفتر کی وکتل.

ترابي صاحب له هرڅه وړاندی راغلی پلاوی ته ښه راغلاست وویل او زیاته یې کړه چې ګېټس بنسټ تل د افغان اولس سره بیلابیلی مرستی کړی او تل یې د افغانستان سره همکاری کړی ده.

همداراز ترابي صاحب زیاته کړه چې د پیښو د مدیریت، د بشری کمکونو مدیریت کول، د ماینونو د خطراتو په او عامه پوهاوی په برخو کی دیادی ادارې سره مرستی وکړی.

ګېټس بنسټ د مشاورې انا ماریا، له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې دسرپرست څخه مننه وکړه چې موږ ته مو وخت راکړ او زیاته یې کړه چې د یادی ادارې سره باید بیلابیل سازمانونه او مؤسیسې مرستی وکړی او موږ به تل هڅه وکړو چې ددې ادارې سره همکاره پاته سو.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د مهاجرت نړیوال سازمان، IOM د رئیسی سره وکتل




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملې ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) د رئیسی پارک میهیونګ، د معلوماتو د تعقیب د پروګرام مسؤل الحمدانی مظهر او د اظطراری حالتو مسؤل فهیم صافی سره د ۱۴۴۶ کال د شعبان 12 نېټه په خپل کاری دفتر کی وکتل.

ښاغلې ترابي صاحب له هرڅه وړاندی د IOM پلاوی ته ښه راغلاست وویل او زیاته یې کړه چې IOM سازمان تل زموږ سره په بشری او تخنیکی مرستو کی همکارۍ کړې ده  چې موږ ورڅخه مننه کوو او ځانګړې مننه یې ورڅخه وکړه چې د خپلو ۵۰۰ کارمندانو په مټ یې په ۳ میاشتو کی هغه سیمی په نښه کړې چې تر خطر لاندې وې.

همدا راز ترابي صاحب د مهاجرت د نړیوال سازمان د راغلی پلاوی څخه غوښتنه وکړه چې د ولایتونو د کارونو دچټکیتا او شفافیت لپاره د ۳۵ بایمټریک د ستګاوو، ۳۴ لوډ سپیکرونه او په کلیو کی د رضا کارانو د نیولو په برخه کی همکاری راسره وکړی.

د IOM سازمان رئیسی پارک میهیونګ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د سرپرست څخه مننه وکړه چې موږ ته مو وخت راکړ او زیاته یې کړه چې یادی ادارې تل زموږ سره په طبعی او غیر طبعی پیښو کی زیاته همکاری کړی ده او موږ به تل هڅه کوو چې ددې ادارې سره همکاره پاته سو.

اغلې پارک زیاته کړه چې ستاسو غوښتنی موږ واوریدلی او کوښښ به وکړو چې د دې ادارې اړتیاوی پوره کړو او په یاده برخه کی به همکاری وکړو.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د ۳۴ ولایتونو له مسؤلینو سره په آنلاین ډول غونډه ترسره کړ

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي د هېواد د ټولو ۳۴ ولایتونو  ولایتی مسؤلینو سره د ۱۴۴۶ کال د شعبان 12 نېټه  په آنلاین ډول غونډه ترسره کړه، په دې ناسته کې د یادې ادارې ولایتی رئیسانو او د یادو ادارو استازو ګډون کړی و.




ترابي صاحب وویل چې د لومړۍ ځل لپاره مو د انلاین غونډه جوړه کړه چې له دې وروسته به کله کله د اړتیا سره سم داسې غونډې ترسره کوو.

په دې آنلاین غونډه کې تر ټولو مهم بحث د هغو سیمو ارزونه وه چې خطر ورته متوجې وې او استنادی د یوالونو یا چیک ډیمونو ته ضرورت لری، د خلکو مشکلات په حل کیږی او خلګ د خطر څخه ژغورل کیږی.

ترابي صاحب د ټولو ولایتونو مسؤلینو ته لارښوونه وکړه چې د خپلو والیانو سره تر مشورې وروسته موږ ته  په هر ولایت کی د یو میلیون افغانیو په ارزښت تر خطر لاندې وقایوی پروژی په نښه کړی تر څو موږ ژر تر ژره په ټول هیواد کی اضطرار پروژې پیل او تطبیق کړو.

د ۳۴ ولایتو نو ولایتی مسؤلینو هر یوه په خپل نوبت سره د خپل ولایت اړینی اضطراری پروژې  په ګوته کړلې.

د غونډې په وروستیو کی ترابي صاحب پر ټولو  ولایتی مسؤلینو ټینګار وکړ چې د خپلو اړونده وای صاحبانو سره تر مشورې وروسته  ژر تر ژره هغه سیمی په نښه کړی چې پروژو ته اړتیا لری چې ډیر کورونه، باغونه او ځمکی یی تر تهدید لاندی وی او په کم مصرف خلګو ته زیات خدمت وسی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري سرپرست د افغانستان لپاره د ناروې هېواد له شارژدافیر سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي د افغانستان لپاره د ناروې هېواد له شارژدافیر پییر آلبرت الساس او لومړۍ سکرتر اولی کیرک واک سره د ۱۴۴۶ کال د شعبان 13 نېټه وکتل.

ترابي صاحب راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووېل او زیاته یې کړه چې د ناروې هیواد د افغانستان سره لازمې همکارۍکړې دی، او موږ یې منندوی یو او تل یې د افغانستان په شمول د بیلابیلو هیوادونو د پېښځپلو خلکو سره مرستی کړې دی او موږ غوښتنه کوو چې خپلو مرستو ته دوام ورکړی.

همداراز ترابي صاحب د افغانستان لپاره د ناروې هیواد له چارسمبالی څخه وغوښتل چې دطبیعی او غیر طبیعی پېښو، د بیړنیو حالاتو، د خطرونو د مدیریت، د اقلیمی بدلون او د وقایوي پروژو لپاره د یادی اداري سره همکاری وکړی.

وروسته د افغانستان لپاره د ناروې هېواد شارژدافیر پییر آلبرت الساس له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري له سرپرست څخه مننه وکړه چې په تیرو څو میاشتو کی یې د بیلابیلو مؤسیسو سره زیاتی تفاهم نامې لاسلیک کړې دی او همداراز یې د خپل هېواد د همکاریو یادونه وکړه او وویل چې موږ د دولت د اصولو، وزارتونو او دولتی ادارو د غوښتنو پر اساس همکارۍ کړی دی او لا به هم خپلی همکارۍ ته دوام ورکړو.
په پای کې دواړو خواوو په بېړنیو حالاتو او بیړنیو پروژو کې د بشری مرستو رسونې او د اړیکو پر ساتلو ټینګار وکړ.

## د اورلګېدنې د مخنیوی د دایمی تخنیکی کمېټې غونډه ترسره شوه



د اورلګېدنې د مخنیوی د دایمی تخنیکی کمېټې غونډه، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د خطرونو د مخنیوی او کمولو ریاست د رئیس ملا نورمحمد بدری په مشرۍ د چارو د اداري، مالیې وزارت، د کابل ښاروالۍ او د تیلو او ګازو د تنظیم ریاست د مسؤلینو په ګډون د یادې کمېټې د کاری راپورونو په اړه د ۱۴۴۶ کال د شعبان 13 نېټه ترسره شوه.

په دې غونډه کې، د اورلګېدنې د مخنیوی د عملیاتی پلان د تطبیق، په پمپ سټېشنونو کې د ترسره شویو تدابیرو او احتیاطی تدابیرو په اړه د ادارو د راپورنو د وړاندې کولو په هکله بحث او د نظرونو تبادله وشوه.

همدارنګه د سوداګریزو مرکزونو او پمپ استیشونو د سروې او پلټنې ټیم د راپور له مخې، د کابل ښار په ۱۴ او ۵ ناحیو کې ۵۵ پمپ استېشنونو سروې او پلټنه ترسره شوه. چې له جملې څخه یې ۱ معیاری پمپ استېشن، ٦ نیمه معیاری پمپ استېشنونه، ۳۱ نصف معیاری پمپ استېشنونه او ۷ غیر معیاری پمپ استېشنونه په نښه شول او مالکینو ته یې لازمې لارښوونې ورکړل شوی

د غونډې په پای کې پرېکړه وشوه، چې چمتو شوی راپور دې د اقتصادی معاونیت محترم عالی مقام ته واستول شی. دغه راز څلور پمپ استېشنونه چې په تېره غونډه کې غیر معیاری په نښه شوی وو، د اقتصادی معاونیت محترم عالی مقام د حکم له مخې د یکشنبې تر ورځې وخت ورکړل شو، چې د نه معیاری کېدو په صورت کې به وتړل شی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري اوونیزه اداري غونډه ترسره شوه

د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري اوونیزه اداری غونډه د دې اداري د سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی په مشرۍ او د مرکزی رئیسانو په ګډون د ۱۴۴۶ کال د شعبان 13 نېټه د دې اداري په انګړ کې ترسره شوه.

غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

وروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.

د غونډې په پای کې  داجنډا پر ټولو موضاعوتو باندی لازم تصمیمونه ونیول سول.

## د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۱۶ کورنیو ته نغدی مرستې وویشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د OCHIP موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک پر بنسټ, د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۹ نېټه د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ او د ACHRO موسسې په تخنیکی همکارۍ، ۳۱۶ زیانمنونکو او اړمنو کورنیو ته د یاد ولایت په دهراوود ولسوالۍ کې نغدی مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې له یادې جملې ۳۰۰ کورنیو هرې یوې ته ۲۰۰ ډالر او ۱۶ نورو کورنیو هرې یوې ته ۲۷۴ ډالر د مسؤلینو په شتون کې وویشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر برای ۱۵ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی توزیع نمود

به اساس هماهنگی سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با موسسه یونیسف، بتاریخ ۱۰ شعبان سال ۱۴۴۶ ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر با حمایت موسسه یونیسف، برای ۱۵ خانواده که از اثر حوادث طبیعی در ولسوالی‌های عنابه، رخه، حصه‌اول و مرکز آن ولایت آسیب‌دیده بودند، بعد از سروی کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی توزیع کرد.



در این پروسه با حضور مسوولان به هر خانواده که منازل‌شان به صورت کلی تخریب گردیده بود به هر کدام ۲ بوری آردی ۵۰ کیلویی، ۲ بوری برنج ۲۵ کیلویی، ۵لیتر روغن، ۵ تخته کمپل و یک پایه چپرکت و یک بسته البسه زمستانی از طرف یونیسف وبرای خانواده های که منازل‌شان قسمی تخریب شده بود، به هر کدام ۲ بوری آرد، ۱ بوری برنج ۲۵ کیلویی، ۲ لیتر روغن، ۳ تخته کمپل و یک پایه چپرکت و یک بسته البسه زمستانی از طرف یونیسف توزیع گردید.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۵۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د افغان ماشومانو لپاره د جرمني مرستې موسسې (GAACH) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۹ نېټه د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ، د یاد ولایت مرکز جلال آباد ښار او بېلابېلو ولسوالیو اړوند ۲۵۰ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۵۰ کیلو اوړه، ۱۰ لیتره غوړي، ۷ کیلو وریجې، ۵ کیلو لوبیا، ۵ کیلو بوره، نیم کیلو شین چای، د ماشومانو لپاره ۱ کیلو وچې شیدې او د ماشومانو لپاره ۲ قوطۍ سریلاک ووېشل شول.

## د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲ زیانمنوکورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې



د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۹ نېټه د یاد ولایت په برکی برک او محمدآغه ولسوالیو او مرکز کې د اورلګېدنې له امله ۱۲ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۵۰ کیلو اوړه، ۵۰ کیلو وریجې, ۱۰ لیتره غوړي، ۶ پاکټه بسکېټ, ۲ کیلو مُمې, ۲ تختې کمپلې او ۱ روغتیایي کېټ ووېشل شول.

## د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۰ زیانمنو کورنیو ته د غیر خوراکي توکو مرستې ووېشلې



د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۱۰ نېټه د یاد ولایت د سید آباد ولسوالۍ، شنیز درې اړوند ۸۰ زیانمنو کورنیو ته د ولایت د مقام په لارښوونه د غیر خوراکي توکو مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، وروسته له سروې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱ د یونیسف موسسې د ماشومانو البسه، ۲ عدده د اوبو سطلونه، ۲ عدده د اوبو بوشکې او ۲ عدده روی پاکونه ووېشل شول.

د یادونې ده، چې د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رییس مولوی فیض الله جلالی له یاد شمېر کورنیو سره د نورو مرستو د کولو یادونه هم وکړه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کاپیسا برای ۲۰۰ خانواده مستحق کمک‌های زمستانی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه‌ای که قبلاً میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و موسسه ARADA به امضا رسیده بود، بتارخ ۱۰ شعبان ۱۴۴۶ موسسه متذکره در هماهنگی با ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کاپیسا، برای ۲۰۰ خانواده مستحق و نیازمند بعد از سروی کمک‌های زمستانی توزیع نمود.

در این پروسه با حضور مسوولان به هر خانواده ۷ قلم البسه زمستانی توزیع گردید.

## د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰۰ بېوزلو او د یتیمانو کورنیو ته د غیر خوراکی توکو او روغتیایی کیټونو مرستې ووېشلې



له یونیسف موسسې سره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د سرپرست د همغږۍ پر بنسټ، د ۱۴۴۶ کال د شعبان 12 نېټه د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په ملاتړ، د دې ولایت د خروار ولسوالۍ اړوند ۱۰۰ مستحقو او د یتیمانو کورنیو ته د غیر خوراکی توکو او روغتیایی کیټونو مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، هرې کورنۍ ته د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې، یوه بسته د یونیسف روغتیایی کیټونه او ۳۶ کلچې صابون ووېشل شول.

د یتیمانو او مستحقو کورنیو د یادو مرستو ترلاسه کولو له امله د خوښۍ څرګندولو ترڅنګ له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ له ریاست څخه، د دې مرستو د برابرولو او وېش له امله قدردانی وکړه.

## د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۰۰ اړمنو کورنیو ته غیرخوراکی مرستې ووېشلې



له یونیسف موسسې سره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د سرپرست د همغږۍ پر بنسټ, د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۱۳ نېټه د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ, د یاد ولایت مرکز ګردېز اړوند ۲۰۰ اړمنو کورنیو ته له سروې وروسته غیرخوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍکې له سروې وروسته د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته یو هایجن کېټ او یو بېړنۍکېټ ووېشل شو.

## د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۷۲ اړمنو کورنیو ته ۳,۲۰۳,۲۰۰ افغانۍ نغدې پیسې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د IRC موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ۱۴۴۶ کال د شعبان 12 نېټه د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت د مرکز ګردېز اړوند ۵۷۲ اړمنو کورنیو ته د څلورم او پنځم پړاو نغدی پیسو مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، هرې کورنۍ ته له سروې وروسته د مسؤلینو په شتون کې ۵,۶۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره ۳,۲۰۳,۲۰۰ ( ۳ میلیون، ۲۰۳ زره او ۲۰۰ ) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

د یادونې وړ ده، چې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو ته یادې مرستې د ژمنیو تو کو د برابرولو په موخه ورکړل شوې، چې یادو کورنیو یې په ترلاسه کولو خوښی څرګنده کړه.

## د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له یوې زیانمنې کورنۍ سره نغدی مرسته وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د سرپرست په لارښوونه, د ۱۴۴۶ کال د شعبان 13 نېټه د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, د یاد ولایت په چک ولسوالۍ کې د ګاز د‌بې د چاودنې له امله یوې زیانمنې کورنۍ  ته  چې په کور کې یې ۵ کسه شهدیانو او نغدی مرسته ورکړه .

په دې لړې کې زیانمنې کورنۍ ته د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې ۱۰۰,۰۰۰ افغانۍ نغدی پیسې ورکول سوی  .

ورته مهال یادې کورنۍ له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د سرپرست لخوا ترسره شوی مرستې او خواخوږۍ څخه مننه او قدرداني وکړه.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۰۵ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د ژغورنې نړیوالې کمېټې (IRC) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۱۴ نېټه د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې کمېټې په مالی ملاتړ، د کابل ښار د ۵ او ۱۵ ناحیې اړوند ۳۰۵ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، له سروې وروسته د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۲۴,۵۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال ۷,۴۷۲,۵۰۰ ( ۷ میلیونه، ۴۷۲ زره او ۵۰۰ )  افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

د یادونې وړ ده، چې دې کورنیو ته یادې مرستې د ژمنیو توکو د پېرلو په موخه ورکړل شوې.

## په لغمان ولایت کې یو کیبلي پل تر بیارغونې وروسته ګټې اخیستنې ته وسپارل شو



د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت په مرکز کې د نوری کلی اړوند یو کیبلی پل چې د طبیعی پېښو له امله ویجاړ شوی وو، تر بیارغونې وروسته د ۱۴۴۶ کال د شعبان 13 نېټه ګټې اخیستنې ته وسپاره.

د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رییس قاری خیر محمد غازی د یاد پله د پرانیستنې په مراسمو کې وویل چې دغه پروژه له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د داخلی بودیجې په واسطه د ۲,۱۷٦,۰۵۰ ( ۲ میلیونو، ۱۷٦ زره او ۵۰ ) افغانیو په لګښت د درېو میاشتو په موده کې ورغول شوه. هغه زیاته کړه، چې اوسمهال له دغه پله څخه درې زره کورنۍ د تګ راتګ لپاره ګټه اخلی، په داسې حال کې، چې له دې مخکې یادې کورنۍ له ډېرو ستونزو او محدودیتونو سره مخ وې.

د لغمان والی، شیخ شیراحمد حقانی هم په دې مراسمو کې ټینګار وکړ چې دغه پروژه د اسلامی امارت له داخلی بودیجې تمویل شوې او بیارغونې یې د خلکو د تګ راتګ لپاره اسانتیا برابره کړې دی. نوموړی په راتلونکی کې د ورته پروژو د پلی کولو په اړه هم معلومات ورکړی دی.

بل خوا د سیمې اوسیدونکو د دغه کړنې هرکلی کړی او له اسلامی امارت څخه یې غوښتی چې د دغه پله لپاره استنادی دیوالونه جوړ کړی، ترڅو په راتلونکی کې د هر ډول احتمالی تخریب مخه ونیول شی.

## د غزنی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۲۰ زیانمنو کورنیو سره د خوراکی او غیرخوراکی توکو مرستې وکړې




د غزنی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۱۳ نېټه ۲۰ کورنیو ته چې د اورلګېدنې او ترافیکی پېښو له امله په آب‌بند، اندړ، ذنخان، قره‌باغ ولسوالیو او د یاد ولایت په مرکز کې زیانمنې شوی وې، له سروې وروسته د خوراکی او غیرخوراکی توکو مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې، د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو غنم، ۵۰ کیلو وریجې، ۷ کیلو بوره او یوه روغتیایی بسته وویشل شوه.

د یادونې وړ ده، چې زیانمنو کورنیو د دغو مرستو په ترلاسه کولو سره د غزنی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ له ریاست څخه مننه وکړه.

## د بغلان ولایت له ېېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۹،۷۶۱،۸۰۴ افغانۍ نغدې پیسې ۱۶۵ زیانمنو کورنیو ته وویشلې



له ېېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د هستوګنې لپاره د آقاخان موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې, د ۱۴۴۶ کال د شعبان 14 نېټه د بغلان ولایت له ېېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ, په برکه ولسوالۍ کې د ۱۶۵ کورنیو ته چې کورونه یې د سېلابونو له امله ویجاړ شوی وو, یادو کورنیو ته نغدې مرستې وویشلې.

د یادونې وړ ده چې په لومړی پړاو کې ۳۴ کورنیو هرې یوې ته ۷۰,۳۳۰ افغانۍ او په دویم پړاو کې پاتې نورو ۱۳۱ کورنیو هرې یوې ته ۵۶,۲۶۴ افغانۍ وویشل شوې, چې ټولټال ۹,۷۶۱,۸۰۴ (۹ میلیونه,۷۶۱ زره او ۸۰۴ افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوی وې.

د یادونې ده چې دا مرستې له ېېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, موسسې او د برکه ولسوالۍ د استازو په شتون کې وویشل شوې.

## د ننګرهار ولایت له ېېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۲۰ بېوزله کورنیو ته نغدې مرستې وویشلې



له ېېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د ژغورنې نړیوالې کمېټې (IRC) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ۱۴۴۶ کال د شعبان 14 نېټه د ننګرهار ولایت له ېېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې کمېټې په مالی ملاتړ، د دې ولایت د سره رود ولسوالۍ اړوند ۲۲۰ بېوزله کورنیو ته له سروې وروسته نغدې مرستې وویشلې. په دې لړۍ کې، هرې کورنۍ ته ۲,۹۰۰ افغانۍ د خوراکی توکو د پېرلو په موخه د مسؤلینو په شتون کې وویشل شوې، چې ټولټال ٦٣٨,٠٠٠ ( ٦٣٨ زره ) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره په پام کې نیول شوې وې. د یادونې ده، چې په راتلونکې کې د یادو اړمنو کورنیو لپاره نورې مرستې هم په پلان کې نیول شوې دی.

**عامه پیغامونه :**

**10. ماینونو او ناچاوده توکو ته لاس مه وروړئ که چیرې مو کوم ماین یا ناچاوده توکي ولیدل د ماین پاکې مسؤلینو ته ژر تر ژره خبر ورکړئ**

**11. طبیعي پېښو ته چمتووالي نیول د ژوند ژغورنې یو اړین اصل دې**

**12. د خپل توان او طاقت سره سم اوبه مدیریت او مهار کړئ ترڅو د سېلاب او وچکالۍ د خطرونو څخه ځانونه او مالونه وژغورې**